د افغانستان سره د آلمان همکاری
مطبوعاتی خبر

د المان د سیمه ایزې بیخبنا د پراختیا د وجهی صندوق فعالیتونه د سمنګان ولایت ته پراخول کیږي

ایبک (سمنګان)، د ۱۳۹۴ کال د لړم ۴مه نیټه – نن د المان د سیمه ایزې بیخبنا د پراختیا وجهی صندوق (RIDF) په رسمي توګه په سمنګان کې خپلو فعالیتونو پیل وکړ او همدا راز یې په ایبکو کې یوه نوی دفتر پرانیست. دغه کال سمنګان د ولایتی پراختیایي کمیټې ته د نوموړي صندوق د معرفي کولو او د د ولایتي ریاستونو د رئیسانو او انجینرانو د پاره د یوه دوه ورځني ورکشاپ د جوړولو نه ورسته ترسره شو.

د المان د سیمه ایزې بیخبنا د پراختیا وجهی صندوق ویاړلري چې د سمنګان ولایت د برښنا، کلیوالي پراختیا، د خلم-ایبک د رود د حوزې، د پوهنې، فواید عامې او د اوبو رسونې د تخنیکي ریاستونو خپله همکاري پیل کوي. د نوموړي صندوق د تمویلي پروګرام موخه داده چې د سمنګان په ولایت کې بیخبنا ته لکه سړکونو، روغتونونو او ښوونځیو ته سمون ورکړي او د کلیو او ښارونو د اوسیدونکو د ژوند کچه لوړه کړي.

نوموړی صندوق د لومړی مسودې او د دولت د منظورۍ نه نیولې بیا تر موجزې پلانجوړونې او په پای کې د پلي کونې د یو لړ ګامونو د اوچتولو نه وروسته د پروژو په تطبیقولو پیل کوي. تخنیکي کارپوهان د دغې لړۍ څخه ملاتړ کوي، او د تخنیکي روزنې سره یوځای دغه اسلوب د اړونده محلي حکومت د ریاستونو سره مرسته کوي چې خپل تخنیکی ظرفیت زیات کړي.

نوموړی وجهي صندوق خپل کار په ۲۰۱۰ کال کې د بدخشان، بغلان، بلخ، کندز او تخار په ولایتونو کې پیل کړې او تراوسه پورې یې ۳۲ بیخنبایي پروژې لکه ښاري پاخه سړکونه، د کلیو لارې، د رود د غاړې خوندي کول او اوبو لګولو د کانالونو بیارغول بشپړ کړیدی.

د المان د اقتصادي همکاریو او پراختیا وزارت (BMZ) د KfW د پراختیایی بانک له لارې دغه پروګرام تمویلوي. د دې پروګرام د تطبیق قرارداد د Grontmij-GOPA-INTEGRATION ګډ شرکت ته ورکړل شویدی. د دې پروګرام موخه داده چې د ولایتي پراختیایي کمیټو سره مرسته وکړي چې په ولایتونو کې د ولایتي سکتوري ریاستونو د وړاندیزونو د پلي کولو د پاره مالي وجهې تخصیص کړي.

د بلخ او سمنګان د پاره د المان پراختیایي کمیشنر ښاغلي فلوریان سمیتسمانز، د سمنګان په ولایت کې د نویو فعالیتونو د پیل په درشل کې وویل: "په سمنګان کې د وجهي صندوق د فعالیتونو پیل یو ښه فرصت دی چې د ولایتي بودجې تخصیص د منطقی پراختیا د ملحوظاتو سره سم شفافیت ومومي. له دې کبله د پروګرام موخه دا هم ده چې د پروژو د انتخاب له لارې د یوې سالمې پراختیا په لاره کې مرسته وکړي."

Released by the PR-Unit of the German Cooperation with Afghanistan.
For further information please contact: pr-unit-afghanistan@giz.de